**د میندواره میرمنو لپاره د والګي د واکسین په اړه معلومات**

د میندواره میرمنو لپاره معلومات 2023-2024

**د دې معلوماتي کتابچې په اړه**

دا معلوماتي کتابچه تاسو ته د والګي د واکسین په اړه معلومات درکوي. دا تاسو ته وايي چې ولې باید د میندوارۍ پر مهال د والګي واکسین ترلاسه کړئ. همدارا‌ز دا معلوماتي کتابچه تاسو ته نورې مهمې سپارښتنې او معلومات وړاندې کوي، لکه څه وخت او څه ډول واکسین ترلاسه کړئ.

مهرباني وکړئ په دقت سره یې ولولئ.

**موسمي انفلونزا (والګی) څه شی دی؟**

والګی یوه ساري ناروغي ده چې د انفلونزا ویروس په واسطه رامنځته کیږي. دا ویروس تنفسي مجراګاني او سږي مبتلا کوي.

والګی د والګي د موسم پر مهال په ټولنه کې خپریږي. د والګي موسم معمولاً د اکتوبر له لومړۍ پیل کیږي او د اپریل تر پای پورې دوام مومي.

**آیا والګی د جدي ناروغی سبب کیږي؟**

هو، والګی کولای شي د جدي ناروغی سبب شي او د میندواره میرمنو لپاره ژوند ګواښوونکی شي. د والګي په اختلالاتو کې سینه بغل، د سږو التهاب او ډېرو کمو مواردو کې د مغز د التهاب سبب کیږي.

د میندوارۍ پر مهال په والګي باندې مبتلا کېدل د جنین د سقط، له وخت وړاندې زږېدو او حتی د ماشوم د مړه زږېدو خطر زیاتوي.

**که چېرې زه د والګي په موسم کې میندواره وم، ولې اړ یم چې د والګي واکسین ترلاسه کړم؟**

لکه څرنګه چې تاسو میندواره یاستئ، که چېرې په والګي باندې مبتلا شئ نو د شدیدو اختلالاتو له لوړ خطر سره مخ یاستئ. د والګي واکسین د میندوارۍ پر مهال تاسو په والګي باندې له مبتلا کېدو څخه ژغوري او پر دې سربېره ستاسو نوي زیږیدلي ماشوم ته د ژوند په لومړیو میاشتو کې خوندیتوب هم وړاندې کوي.

تر 6 میاشتو کم عمر لرونکي ماشومان، هغه ماشومان دي چې په ډېر احتمال سره په والګي باندې د مبتلا کېدو په صورت کې په روغتون کې بستري کیږي.

**د والګي واکسین څه شی دی؟**

واکسین داسي محصول دی چې د بدن له دفاعي سیستم سره مرسته کوي چې د انتاناتو پر وړاندې مبارزه وکړي. هر کال د والګي واکسینونه بدلون مومي، له دې امله هر کال د والګي واکسین د والګي د نویو څپو پر وړاندې د خوندیتوب په موخه بدلون کوي.

**د میندوارۍ په کومه مرحله کې باید د والګي واکسین ترلاسه کړم؟**

که چېرې تاسو د والګي په موسم کې میندواره یاست، نو د والګي واکسین باید ترلاسه کړئ.

د والګي واکسین د میندوارۍ په هره مرحله کې ترلاسه کولای شئ، مګر که چېرې یې هر څومره ژر ترلاسه کړئ، په هماغه اندازه به له تاسو څخه ساتنه وکړي.

**زه د والګي د موسم په وروستیو کې میندواره وم او بیا مې وروسته واکسین ترلاسه کړل. زه اوس هم میندواره یم، آیا باید همدا اوس واکسین ترلاسه کړم؟**

هو. د والګي د دې موسم لپاره د والګي واکسین د تیر موسم له واکسین سره توپیر لري او دا واکسین به اوس تاسو ته د والګي د دې موسم د څپې پر وړاندې خوندیتوب وړاندې کړي.

**د والګي واکسین څه ډول کار کوي؟**

د خوندیتوب ملي دفتر
www.hse.ie/flu
د سفارش کوډ: HN100720
د 2023 د اګسټ میاشت

د والګي واکسين ستاسو د بدن له دفاعي سيستم سره مرسته کوي چې د والګي د ويروس پر وړاندې انټي باډي (هغه پروټين چې له انتاناتو سره مبارزه کوي) توليد کړي. که چېرې تاسو د والګي واکسين ترلاسه کړي وي او تاسو د والګي له ويروس سره اړيکه وموئ، واکسين کولای شي ستاسو د ناروغ کېدو مخه ونيسي.

**واکسين په څومره وخت کې خپل اغيز ښيي؟**

واکسين د دوو اونيو په لړ کې خپل اغيز پيل کوي.

**آيا زما لپاره واکسين ترلاسه کول خوندي دي؟**

هو. واکسين د مېندواره مېرمنو لپاره خوندي دي. له 50 کلونو څخه زيات وخت کېږي چې د والګي واکسين مېندواره مېرمنو ته ورکول کيږي.

**له هغو خلکو سره څه کيږي چې د هګۍ سره حساسيت لري؟**

د هګۍ سره حساسيت لرونکي ډېری خلک کولای شي د والګي واکسين ترلاسه کړي. له خپل GP (ډاکټر) يا فارمسيست سره خبرې وکړئ.

**څوک بايد د والګي واکسين ونکړي؟**

که چېرې تاسو د والګي د واکسين د مخکيني ډوز يا د واکسين د هرې برخې سره شديد حساسيتي غبرګون ښودلی وي، نو تاسو بايد د والګي واکسين ترلاسه نه کړئ.

تاسو بايد واکسين ونه اخلئ که تاسو درمل اخلئ چې د ګډ چيک پوسټ انابيټرز په نوم ياديږي (د بيلګې په توګه ، ipilimumab plus nivolumab) چې د سرطان درملنې لپاره کارول کيږي.

که چېرې تاسو شديده نيوتروپيني (د وينې د سپينو کروياتو ټيټه کچه) لرئ، نو د والګي واکسين بايد ترلاسه نه کړئ له هغو کسانو پرته چې په خپل لومړني نيوتروپيني کې خونديتوب لري.

**تاسو بايد څه وخت واکسين وځنډوئ؟**

لږ شمېر دلايل شتون لري چې تاسو بايد د واکسين ترلاسه کول وځنډوئ. په همدې حال کې، که چېرې تاسو د تبې له 38 سانتيګراد درجې (د حرارت درجې) سره ښه نه ياست، تاسو بايد د خپل واکسين اخيستلو وخت بيا په مهالويش برابر کړئ. له خپل GP (ډاکټر) يا فارمسيست سره د بيا ځلي تنظيم کولو د غوره وخت په اړه خبرې وکړئ.

**آيا د والګی واکسين کولای شي ما په والګي باندې مبتلا کړي؟**

نه، د والګي و اکسين نشي کولای تاسو په والګي باندې مبتلا کړي.

**آيا د والګي واکسين به ما د COVID-19 پر وړاندې خوندي کړي؟**

نه، د والګي واکسين تاسو د COVID-19 پر وړاندې نه خوندي کوي. دا اړينه ده چې تاسو دواړه د والګي او د COVID-19 واکسين ترلاسه کړئ. د دې په خاطر چې والګی او COVID-19 د بيلابيلو ويروسونو له امله رامنځته کيږي.

والګی او COVID-19 په شديد ډول د ناروغ کېدو سبب کيږي او که چېرې تاسو په هغوی باندې مبتلا شئ کيدای شي په روغتون کې بستري شئ. کيدای شي له والګي څخه د COVID-19 د نښو نښانو جلا کول ستونزمن وي.

که چېرې تاسو د COVID-19 واکسين ترلاسه کړی وي، تاسو بايد والګي واکسين هم ترلاسه کړئ. که چېرې تاسو د COVID-19 د واکسين وړانديز وشي، کولای شئ په همهاله توګه د والګي واکسين هم ترلاسه کړئ

**د واکسين جانبي عوارض کوم دي؟**

مشهور جانبي عوراض خفيف دي. کيدای شي په هغوی کې درد، د تزريق په ځای کې سوروالی او پړسوب شامل وي.

کيدای شي د سر درد، د عضلاتو درد او ستړيا رامنځته شي. کيدای شي دا جانبي عوارض د څو ورځو لپاره دوام وکړي.

جدي غبرګونونه ډېر کم دي جدي حساسيتي غبرګون له يو ميليون کسانو څخه په يوه کې رامنځته کيږی.

**که چېرې له واکسين وروسته ښه احساس ونه لرم، نو څه به رامنځته شي؟**

که چېرې تاسو له واکسین ترلاسه کولو وروسته تبه درلوده نو پراستامول وخورئ. د مینداورۍ پر مهال د هغې ترلاسه کول خوندي دي او هغه له تاسو او ماشوم سره مو مرسته کوي چې تبه ونه کړئ.

ایبوپروفین (ibuprofen ) یا آسپرین (aspirin) مه خورئ **مګر دا چې** ستاسو د ډاکټر لخوا سپارښتنه شوې وي.

په یاد ولرئ: که چېرې تاسو د واکسین ترلاسه کولو وروسته ښه نه وئ، کیدای شي لامل یې بل څه وي. داسې مه ګڼئ چې هغه د والګي واکسین دی.

که چېرې تاسو تبه لرئ، په کور کې پاتې شئ او له خپل GP (ډاکټر) سره د سپارښتنې ترلاسه کولو په موخه اړیکه ټینګه کړئ.

**چېرته کولای شم د والګي واکسین ترلاسه کړم؟**

تاسو کولای شئ د والګي واکسین له خپل GP (ډاکټر) یا فارمسیست څخه ترلاسه کړئ.

که چېرې تاسو یو روغتیايي کار کوونکی یاستئ، کیدای شي ستاسو کار ځای تاسو ته واکسین چمتو کړي.

**د والګي واکسین څومره لګښت لري؟**

واکسین او ستاسو له GP (ډاکټر) یا فارمسیست سره سلا مشورې وړیا دي.

مهرباني وکړئ همدا اوس له خپل GP (ډاکټر) یا فارمسیست سره د لیدنې وخت تنظیم کړئ.

د لا زیاتو معلوماتو لپاره لاندې پتې ته مراجعه وکړئ: www.hse.ie/flu.

همدارنګه تاسو کولای شئ د www.hpra.ie پتې له لارې د واکسینونو په اړه د ناروغ د معلوماتي کتابچې لینک ومومئ. Influvac Tetra ولټوئ.

**د محرمیت بیانیه:**

په خوندي ډول د واکسینونو د ورکولو او د واکسینونو د څارنې او مدیریت لپاره د ټولو اړینو معلوماتو د ثبتولو په موخه، HSE ستاسو د ماشوم شخصي معلومات پروسس کوي. د HSE لخوا ټول پروسس شوي معلومات به د معلوماتو څخه د ساتنې د بیلابیلو قوانینو سره سم له هغې ډلې د 1988-2018 له معلوماتو څخه د ساتنې قانون، د 2016/679 (EU مقرراتو، (له معلوماتو څخه د ساتنې عمومي مقررات، GDPR) او د 2014 کال روغتیايي پیژندونکو قانون سره سم ترسره شي. د ستاسو د ماشوم معلوماتو پروسس کول به قانوني او عادلانه وي. یوازې د ځانګړو موخو لپاره لکه د واکسینونو مدیریت، د واکسینونو په پروګرامونو اړوند راپور ورکولو او مدیریت، د متقاضیانو او روغتیايي پاملرنې د چمتو کوونکو د ارزونې لپاره کارول کیږي. د HSE د ځانګو ترمنځ د معلوماتو شریک کیدای شي ترسره شي.

**د خوندیتوب ملي دفتر www.hse.ie/flu**

**د سفارش کوډ: HNI00720 اګست 2023**